طلوع افغان

نبوي مرغلري:

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي:

ژباړه: هر چا چي فريب وکړ، هغه د موږ څخه نه دی.

﴿رواه المسلم﴾

پخي وېناوي:

حضرت علي کرم الله وجهه:

غوره ملګری هغه دی، چي په خير کي ملاتړی، نېکي کوونکی او پر خپل دوست يې لورينه وي.

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"
د امتياز خښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست
په اوونۍ کي دوه واره چاپيږي
د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، پنجشنبه ۱۰/محرم الحرام/۱۴۴۸ هـ ق، ۴/چنګاښ/ ۱۴۰۵ ل کال – ګڼه (۱۶)
Thursday-25-June-2026 Issue: 16

د مطالبو سرليکونه

- څلور امامان؛ قدم په قدم! (ژباړه: مولوي محمد اکبر)
- د تاريخ مأخذونه او ډولونه (ذبيح الله "شفق")
- په ټولنه کي د حجاب ارزښت... (محمد نبي "سلطاني")

د طلوع افغان خبري (سرليکنه)

د قزاقستان او افغانستان ترمنځ سوداګري د غوړېدو په حال کي ده

قزاقستان د منځنۍ آسيا په کچه تر ټولو شتمن هيواد دی، دغه هيواد له افغانستان سره مستقيمه پوله نه لري، خو د ازبکستان له لاري نږدې ګاونډيتوب لري.

د دواړو هيوادونو ترمنځ، جغرافيايي فاصله د ازبکستان له لاري په ريل ګاډي او مځکنيو لارو وصل ده. قزاقستان د افغانستان له پاره يو له خورا مهمو ستراتيژيکو او سوداګريزو شريکانو څخه شمېرل کېږي.

قزاقستان له اقتصادي پلوه په نړۍ کي د ۵۰ غوره او اقتصاد لرونکو هيوادونو په ليست کي شامل دی او د سړي سر عايد په اساس، د منځنۍ آسيا تر ټولو بډای هيواد ګڼل کېږي. د دغه هيواد کلنی داخلي ناخالص توليد (GDP) له ۳۰۰ ميلياردو ډالرو څخه اوښتی دی.

د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخي، دامهال د افغانستان او قزاقستان ترمنځ، دوه اړخيزه کلنۍ سوداګري په منځنۍ کچه د ۵۰۰ څخه تر ۶۰۰ ميليونه ډالرو پوري ده، مګر په دې وروستيو کي کابل ته د قزاقستان يو لوړ رتبه هيئت سفر درلودی، چي په دې سفر کي د دواړو هيوادونو د خصوصي سکټورونو ترمنځ ۲۵ سوداګريز تړونونه لاسليک سول.

د قزاقي هيئت د سفر پر مهال، د افغانستان اسلامي امارت مسئولينو ويلي، له قزاقستان سره به د افغانستان د سوداګرۍ کچه په نږدې راتلونکي کي تر ۳ ميلياردو ډالرو لوړه سي.

له قزاقستان سره د سوداګرۍ غوړېده د افغانستان له پاره ځکه ډېر اهميت لري، چي دا هيواد زموږ ګاونډی او د افغاني توکو له پاره يو ښه بازار هم دی او همدارنګه د افغانستان ترانزيتي موقعيت د قزاقستان له پاره دا زمينه برابروي، چي خپل سوداګريز توکي تر پاکستان او هند پوري ورسوي.

د افغانستان د اقتصادي پرمختګ له پاره دا ډېره مهمه ده چي تر ټولو لومړی له ګاونډيو هيوادونو سره غوره سوداګري ولري، چي له ښه مرغه همدې مهمي موضوع ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت مسئولينو دا هڅه پيل کړې، تر څو له ګاونډيو هيوادونو سره سوداګري وغوړوي، چي ايران، ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان يې ښه مثالونه دي، همدارنګه له چين سره د مستقيم وصلېدو له پاره د واخان سړک رغېدل يې هم بهترين مثال دی.

افغانستان د اقتصادي پرمختګ له پاره ډېر فرصتونه لري، که دا فرصتونه په ښه ډول تشخيص او مديريت سي، نو افغانستان به ډېر ژر د يو بهترين اقتصاد خاوند سي.

اداره

له ايران او پاکستانه په سوونو مهاجري کورنۍ خپل هيواد ته راستنې سوي دي

د مهاجرينو ستونزو ته د رسېدني عالي کمېسيون خبر ورکړی، چي د دوشنبې په ورځ د افغان مهاجرينو ۳۹۴ کورنۍ د پاکستان او ايران څخه هيواد ته راستنې سوي دي.

د ياد کمېسيون دارالانشاء د يوې خبرپاڼي په خپرولو سره ليکلي، د چنګاښ مياشتي په لومړۍ نېټه د ننګرهار ولايت د تورخم له لاري ۳۰۵ کورنۍ، د کندهار ولايت د سپين بولدک له لاري ۳۳ کورنۍ، د نيمروز ولايت د ورېښمو له لاري ۳۳ کورنۍ او د هرات ولايت د اسلام کلا له لاري ۲۳ کورنۍ افغان مهاجرين خپل هيواد ته راستانه سوي دي.

د خبرپاڼي د معلوماتو له مخي، ورمه ورځ همدارنګه په تورخم کي له ۳۳۶ کورنيو، سپين بولدک کي له ۳۹ کورنيو، هرات کي له ۲۳ کورنيو، نيمروز کي له يوې کورنۍ او کابل کي له ۱۵۶ کورنيو سره مرسته هم سوې ده.

د مهاجرينو ستونزو د رسېدني عالي کمېسيون په خبرپاڼه کي همدارنګه څرګنده سوې، چي په ياده نېټه ټولټال ۲۱۴۰ مهاجرين او د نيمروز له لاري ۸۶۷ مسافر خپل هيواد ته راستانه سوي دي.

راستانه سوو کورنيو ته د دې کمېسيون د اطلاعاتو او عامه پوهاوي هيئت له لوري د

۴مخ

د محلي رسنيو او د اطلاعات او فرهنګ رياست د مسئولينو ترمنځ ګډ مجلس وسو

ياد مجلس د تېري دوشنبې په ورځ د اطلاعات او فرهنګ رياست په تالار کي تر سره سو چي د ياد رياست رئيس مفتي انعام الله سمنګاني، د اطلاعاتو، ځوانانو، جهادي ارزښتونو د ساتني آمرينو، د امر بالمعروف نهي عن المنکر نماينده او نورو مسئولينو ګډون کړی و.

مجلس د قرآنکريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل سو.

د اطلاعات او فرهنګ رئيس مفتي انعام الله سمنګاني د محلي رسنيو د تعقيب او نظارت د کمېټې راپور شريک کړ او ټولو محلي رسنيو مسئولينو ته يې د دوی د نشراتو په هکله بشپړ معلومات ورکړل او د اصلاح له پاره يې سپارښتنه ورته وکړه، د اسلامي، اخلاقي او افغاني ارزښتونو په رڼا کي يې د رسنيو مربوط د نشراتو غوښتنه وکړه.

۴مخ

د کندهار موزيم به د ليدونکو پر مخ پرانيستل سي

د کندهار موزيم د بيارغوني او انتقال چاري وروستي پړاو ته رسېدلي او ډېر ژر به د ليدونکو پر مخ پرانيستل سي.

د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رياست اړوند، د هنر او فرهنګ آمر عبدالشکور څپاند ويلي، د کندهار موزيم د بيارغوني او انتقال چاري وروستي پړاو ته رسېدلي او ټاکل سوې چې په نږدې راتلونکي کي د ليدونکو او سېلانيانو پر مخ پرانيستل سي.

ياد موزيم د اطلاعات او

۴مخ

د کوکنارو بديل کښتونو له پاره دوه کلنه پروژه تر سره سوه

UNODC
DCA
د کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو غوره توليدات!
Agricultural and Livestock Products

د کندهار د کرهني او بو لګولو او مالدارۍ رياست وياند محمد حنيف حقمل ويلي، د نشه يي توکو او جرمونو په وړاندي د مبارزې نړيوال سازمان (UNODC) په مالي ملاتړ، د ياد ولايت په ارغستان، شاولي کوټ، خاکرېز او غورک ولسواليو کي د ۲۲ مياشتو په موده کي د کوکنارو بديل کښتونو موندلو، د کروندګرو او مالدارانو د ملاتړ په موخه ياده پروژه ترسره سوې ده.

د مسئولينو په وينا، په دې پروژه کي د کرهني

۴مخ

د دوو ميليونو ډالرو په لګښت سوداګريز مارکېټ جوړ سو

د زابل ولايت په مرکز کلات ښار کي د «اتفاق» په نامه يو لوی سوداګريز مارکېټ د ۱,۵ ميليونو ډالرو په لګښت جوړ او ګټي اخيستني ته وسپارل سو.

د ياد مارکېټ پانګه وال نعمت‌الله ويلي، دغه سوداګريز مرکز د سيمه ييز بازار د پراختيا، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او سوداګريزو فعاليتونو د پياوړتيا په موخه جوړ سوی دی.

دغه په خبره، په ياد مارکېټ کي ۱۰۰ هټي

۴مخ

د څه باندي يو ټن درملو د قاچاق مخه ونيول سوه

د نيمروز ولايت د فرعي ګمرکاتو رياست مسئولينو ويلي، د ياد ولايت د چهاربرجک ولسوالۍ اړوند، په ډک سيمه کي د څه باندي يو ټن درملو د قاچاق مخه نيول سوې ده.

د نيمروز د فرعي ګمرکاتو رئيس ملا عبدالغفار محمود باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، يو ټن او ۷۰۰ کېلو ګرامه درمل، چې په دوو موټرونو کي ځای پر ځای سوي او غوښتل يې له پاکستانه نيمروز ولايت ته قاچاق سي، د ګمرکي مسئولينو له لوري کشف او ضبط سوي دي.

۴مخ

بېلابېل موضوعات

څلور امامان؛ قدم په قدم!

لیکوال: عبدالله فاراني (اشتیاق احمد رح) ژباړه: مولوي محمد اکبر ۵۶ برخه

امام صاحب په ډېري ناخوښۍ د سلام جواب ورکړ، نو هغه وویل:

اې ابو عبد الله! تاسو باید زما څخه بد یو نه سی، ځکه ما د یو خوب په لیدلو سره خپل ژوند بدل کړی دی. امام صاحب پوښتنه څني وکړه، تاسو په خوب کي څه شی لیدلی دی؟

هغه وویل:

ما د الله جل جلاله رسول صلی الله علیه وسلم په خوب ولیدی چي پر یو لوړ ځای ناست وي... او ډېری خلک لاندي ورته ناست وي... د هغوی څخه یو کس ولاړ سو، عرض یې وکړ چي ماته دعا وکړه! نبي علیه السلام هغه ته دعا وکړه او په آخر کي ما هم د دعا له پاره ولاړ بدل غوښتل، مګر په فکر کي مي خپلي ګناوي راغلې، نو له شرمه ولاړ نه سوم، مګر بیا خپله نبي علیه السلام ماته وویل:

ته هم ماته د دعا ووایه چي زه ستا له پاره دعا وکړم، ځکه تاسو زما د صحابه وو څخه یوه ته هم لا بد و رد نه دي ویلي، د نبي علیه السلام د دې ارشاد په اورېدلو سره زه ولاړ سوم، د دعا غوښتنه مي وکړه، نبي علیه السلام ماته هم دعا وکړه، کله چي له خوبه راکښېناستلم، نو د خپلو پخوانیو ګناوو څخه مي توبه وکښله.

د دې خوب په اورېدلو سره امام احمد بن حنبل وویل:

اې جعفره! ای فلانکیه... ای فلانکیه! دا کیسه یاده کړه او خلکو ته دا خوب ووایه، د دې څخه به ډېره غټه فائده ترلاسه کړې.

ابو داؤد ویلي: د امام صاحب مجلس د آخرت مجلس و، هغه په خپل مجلس کي کله هم د دنیا ذکر نه کاوه، ما د هغه څخه هیڅکله د دنیا نوم نه دی اورېدلی، له دوو سوو شیخانو سره مي لیدلي دي، مګر د ده په څېر مي څوک نه دی لیدلی، عوام چي په کومو خبرو بوخت وو، ما هغه هیڅکله په داسي خبرو کي بوخت نه دی لیدلی، البته! چي کله به یې علمي خبري کولې، نو ښکاره خبره یې کوله.

نوموړی د زرونو حدیثونو حافظ و او دماغ یې د حدیثو د علم خزانه وه، خو له دې سره سره په حدیثونو کي د احتیاط عالم و، چي تل یې کتاب په لاس کي و، درس به یې ورکاوه، پر خپلي حافظې یې باور نه کاوه.

ابو زرعة ویلي:

د امام صاحب سل زره حدیثونه په یاد ول، د ده د وفات په وخت کي کتابونه راټول سول، نو د څو اوښانو بارونه کېدل، مګر د دې کتابونو څخه د یو کتاب پر شا دا نه وو لیکل سوي چي فلانکي شیخ دا بیان کړي دي.

د استادانو شمېر یې زرونو ته رسېږي، دهغوی له جملې د مشهورو نومونه دادي: وکیع بن جراح، محمد بن ادریس شافعي، معروف کرخي، علي بن مديني، عبدالرزاق صنعاني، اسماعیل بن علیة، عبدالرحمن بن مهدي، داکا زوی حنبل بن اسحاق، بزار، محمد بن اسماعیل بخاري، مسلم بن حجاج نیشاپوري، ابو زرعة رازي ابو حاکم رازي او نور. د ده زوی عبدالله د ده څخه دېرش زره حدیثونه روایت کړي دي.

د امام صاحب یو استاد د سند دی چي ابن علي نومېږي، د هغه نیکه د سند و او دوه شاګردان یې هم د سند دي چي جیش بن سندي بغدادي او ابو بکر سندي خواتمي بغدادي.

په فقه او فتوی کي د امام احمد بن حنبل پنځه اصول دي:

۱ – که قطعي نص موجود وي، نو د هیڅا خبره نه اخیستل کېږي.

۲ – که د صحابه وو په فتوی کي یوه داسي فتوی وي چي د دې فتوی خلاف، د صحابه وو بله فتوی نه وي، نو عمل پرې کول، په قیاس باندي عمل نه کېږي.

۳ – که په یوه موضوع کي د صحابه وو مختلف اقوال وي، نو په هغه قول عمل کول چي کتاب الله او سنة الرسول ته نژدې وي او که دا نه معلومېدل چي کوم قول کتاب الله او سنة الرسول ته ډېر نژدې دی. نو ټول یې بیانول او یوه ته یې ترجیح ورکول.

نور بیا...

د تاریخ مأخذونه او ډولونه

ذبیح الله "شفق"

درېیمه او ورستۍ برخه

د تاریخ مأخذونه:

د تاریخ لیکل او د تاریخي پېښو وړاندي کول او سپړل، که له یوې خوا یو لوی مسئولیت دی، خو له بلي خوا بیا ستړیا، پاشلې سرګرداني او یو لوی هنر هم دی. هغو مؤرخینو او تاریخ پالو چي ځانونه ستړي کړي او مستند مواد یې د تاریخ تر مینه والو رسولي، نن یې وینو چي د خورا درانه او ښه نوم خاوندان دي. برعکس؛ بیا هغو مؤرخینو ته چي ځانونه یې ستړیا ته نه وي ورکړي او په تا ویلي او ما ویلي پسي تللي وي، نو تر ډېره د خلکو او لوستونکو له آنده بې باوره ښکاري.

تاریخ لیکنه خورا ژوري مطالعې او ښې ډېري ذهني ستړیا ته اړتیا لري. د هغو مؤرخینو آثار چي پر مستندو او قوي منابعو ولاړ او روایات یې حقیقي اړخ ولري، تر ډېره د لوستونکو تر منځ، ګرم بازار لري او علت یې هم د مؤرخ پاشلې خواري او د روښانو منابعو استعمال دی. په دې اړه دوکتور حلیم تنویر هم د یو اکاډمیک تاریخ لیکونکي له پاره د قوي سرچینو او شواهدو موندنه چي د تاریخي پېښو په مستند کولو کي مثبته اغېزه ولري، د فکر او خبرنو په پرتله ورته اشاره وسي، اړینه ګڼي، ځکه خو تاریخ پال او تاریخوال اړ دی چي د تاریخ د ښه وړاندي کولو له پاره د ښو او مستندو مأخذو څخه استفاده وکړي. د تاریخ د مأخذو د ښه پېژندني له پاره اړ یو چي هغو ته په لنډ ډول کتنه وکړو، ترڅو یې په آګاهي او پېژندنه کي په بشپړ ډول مخته تللي و اوسو.

د تاریخ مأخذونه په عمومي ډول پر درو ډولونه وېشل سوي دي:

۱ – لیکل سوي آثار: د لیکل سوو آثارو څخه هدف ټول لیکل سوي شیان دي، لکه: کتابونه، یاداښتونه، امرونه، فرمانونه، اسناد او داسي نور. په افغان تاریخ لیکنه کي تر ډېره حده د لیکل سوو آثارو څخه استفاده زیاته ښکاري او د لرغونو ځایونو په اړه بیا مؤرخین اړ کېږي، چي د تاریخ دوهم مأخذ (لرغونو آثارو) ته مراجعه وکړي.

۲ – لرغوني آثار: د لرغونو او پخوانیو آثارو څخه مقصد د تېري زمانې او مدنیتونو نښې – نښانې دي. لکه ویجاړ ښارونه، کلا ګانې، پخواني کورونه، پخوانۍ ودانۍ، سکې، لوښي، مجسمې او داسي نور. د پخوانیو آثارو د پاته شونو مثال کولای سو چي موږ په افغانستان کي بالاحصارونه، د آی خانم او غلغلې ویجاړ ښارونه، د میرویس نیکه او احمدشاه بابا پاته کورونه، د یوناني او کوشاني دورو څخه را پاته سکې او پخوانۍ کلا ګانې یادې کړو.

۳ – منقول آثار: د منقولو آثارو څخه مقصد د خلکو خبري (کیسې، اشعار او متلونه) دي. لکه: فلانۍ پېښه خوشحال خان خټک په خپل شعر کي داسي بیان کړې او ورته نور مثالونه یې کولای سو چي په هکله یاد کړو.

په تاریخ کي د قوي منابعو څخه کار اخیستنه، که له یوې خوا تاریخ لیکنه بډایه او روښانه کوي، خو له بلي خوا بیا پر مؤرخینو او د پېښو پر راویانو د خلکو باور زیاتوي، چي دا کار تاریخ د خُرافاتو او ناسمو قضاوتونو څخه چاڼ او د سپېڅلتیا خوا ته پسي بیایي.

"د برلاسو تاریخي څېړونکو یوه ځانګړ تیا داده چي د پېښو پر مهال لیکل سوو آثارو ته پوره پام اړوي او د لومړي لاس منابعو په توګه، د هغو آثارو څخه زیاته ګټه پورته کوي چي د پېښي مهال ته نژدې او یا پر یو مهال وي."

مرحوم پوهاند رسول باوري

مأخذونه:

۱ – د تاریخ پوهاوی، د ډاکټر مبارک علي اثر، د میر احمد یاد ژباړه.

۲ – د اسلام تاریخ، لیکوال: مولانا اکبرشاه نجیب آبادي، ژباړن: سید فضل مولا لټون.

۳ – د افغانستان معاصر تاریخ، ترتیب کوونکی: ثابت واصل.

۴ – د تاریخ لیکونکو ځانګړتیاوي څه دي؟ د دکتور حلیم تنویر لیکنه.

۵ – علامه رشاد د تاریخ لیکني په ډګر کي، د مرحوم رسول باوري لیکنه، پښتو ویکیپیډیا.

پای

په ټولنه کي د حجاب ارزښت او اهمیت

محمد نبي "سلطاني"

حجاب د اسلامي ټولني له مهمو ارزښتونو او سپېڅلو اصولو شمېرل کېږي، چي د ښځي د عزت، وقار، حیا او پاکۍ ساتنه کوي. اسلام د یو بشپړ او هر اړخیز دین په توګه د انسان په خاصه توګه د ښځي د ژوند ټولو برخو ته ځانګړې پاملرنه کړې، د فردي او ټولنیز ژوند د سمون له پاره یې واضحي لارښووني وړاندي کړي دي.

حجاب هم د همدې لارښوونو یوه مهمه برخه ده، چي موخه یې د ښځي د شخصیت ساتنه، د ټولني اخلاقي روزنه او د سالم چاپېریال رامنځته کول دي.

په اسلامي ټولنه کي حجاب یوازي یو ظاهري لباس نه، بلکي یو فکري، اخلاقي او ټولنیز ارزښت دی، چي د ښځي د باطني او ظاهري پاکوالي استازیتوب کوي.

الله تعالی انسان ته د نورو مخلوقاتو په پرتله، ځانګړی مقام او عزت ورکړی دی. د دې عزت د ساتني له پاره یې د ژوند بېلابېل اصول او قوانین ټاکلي دي. حجاب د هغو مهمو وسیلو څخه دی، چي د انسان د شخصیت او کرامت ساتنه کوي. کله چي یو ښځه د حجاب او حیا اصول مراعاتوي، نو هغه د خپلو اخلاقو، پوهي او وړتیاوو له مخي ارزول کېږي، نه د ظاهري ښکلا او جسماني ځانګړتیاوو له مخي. همدا لامل دی چي حجاب د ښځي د شخصیت د لوړتیا او درناوي سبب ګرځي او هغې ته ځانګړی وقار وربخښي.

په ټولنه کي د حجاب شتون د اخلاقي فساد د مخنیوي له پاره اغېزمن رول لري. هغه ټولني چي د حیا، عفت او حجاب ارزښتونه په کښې ژوندي وي، هلته د بې حیایۍ، ناروا اړیکو او اخلاقي ستونزو کچه تر ډېره ټیټه وي. حجاب د نارینه او ښځینه ترمنځ، د احترام فضا رامنځته کوي او د هغو کړنو مخه نیسي چي د کورنیو او ټولني د بې ثباتۍ لامل ګرځي. د حجاب له برکته نارینه ښځو ته د انساني کرامت او درناوي له نظره ګوري، نه د شهواني غوښتنو له مخي.

حجاب د کورنۍ په پیاوړتیا او ثبات کي هم مهم رول لري. کورنۍ د ټولني اساسي بنسټ دی او که کورنۍ سالمه وي، نو ټولنه هم سالمه وي. کله چي د حیا او عفت اصول مراعات سي، د کورنیو ترمنځ باور او مینه زیاتېږي او د هغو ستونزو مخه نیول کېږي چي د کورنیو د ړنګېدو سبب ګرځي. حجاب د ښځي او نارینه دواړو له پاره د مسئولیت احساس پیاوړی کوي او هغوی دې ته هڅوي چي خپل ژوند د اسلامي او اخلاقي اصولو له مخي تنظیم کړي.

په معاصره نړۍ کي چي رسنۍ، انټرنېټ او ټولنیزي شبکې د خلکو پر ژوند ژور اغېز لري، د حجاب اهمیت لا زیات څرګند سوی دی. نن ورځ ډېر داسي کلتوري یرغلونه سته چي د حیا او اخلاقو ارزښتونه کمزوري کوي او ځوان نسل د بېلابېلو فکري او اخلاقي ستونزو سره مخ کوي. په داسي شرایطو کي حجاب د اسلامي او افغاني هویت د ساتني یو مهم سمبول ګڼل کېږي. هغه ښځي چي حجاب مراعاتوي، نه یوازي خپل دیني ارزښتونه خوندي ساتي، بلکي راتلونکو نسلونو ته هم د پاک ژوند او سالم فکر بېلګه وړاندي کوي.

حجاب د ښځي د محدودیت وسیله نه ده، بلکي د هغې د عزت، آزادۍ او امنیت ضامن دی. اسلام ښځي ته لوړ مقام ورکړی او د ټولني د یو مهم غړي په توګه یې درناوی کړی دی. حجاب د ښځي استعدادونه نه پټوي، بلکي د دې سبب کېږي چي هغه د خپل علم، پوهي، اخلاقو او وړتیاوو له مخي وپېژندل سي.

تاریخ شاهد دی چي ګڼ شمېر مسلمانو ښځو د حجاب تر سیوري لاندي په علمي، ټولنیزو او فرهنګي برخو کي ستر خدمتونه ترسره کړي دي.

د حجاب بله مهمه ګټه داده، چي په ټولنه کي د امنیت او آرامتیا فضا رامنځته کوي. کله چي د حیا او ادب اصول مراعات سي، د ځورونې، سپکاوي او اخلاقي ستونزو کچه راکمېږي. دا کار د ښځو او نارینه وو ترمنځ، سالمې اړیکي پیاوړي کوي او د ټولنیز باور فضا رامنځته کوي.

په داسي ټولنه کي خلک له یو او بل سره د درناوي او متقابل احترام له مخي تعامل کوي او د ګډ ژوند له پاره مناسب شرایط برابرېږي.

نو ویلای سو چي حجاب د اسلامي ټولني یو ستر ارزښت دی، چي د فرد او ټولني د اصلاح له پاره ځانګړی اهمیت لري.

حجاب د ښځي شخصیت ته عزت ورکوي، د کورنۍ ثبات پیاوړی کوي، د اخلاقي فساد مخه نیسي، د ټولنیز امنیت فضا رامنځته کوي او د اسلامي هویت د ساتني سبب ګرځي.

په نننۍ نړۍ کي چي اخلاقي ننګوني ورځ تر بلې زیاتېږي، د حجاب ارزښت او اړتیا لا زیاته احساسېږي. له همدې امله هر مسلمان باید د حجاب په فلسفه او اهمیت پوه سي او د خپل دیني او اخلاقي مسئولیت په توګه یې په ژوند کي عملي کړي، څو یوه پاکه، باعزته او پرمختللې ټولنه رامنځته سي.

دورکي اعلانونه

دورکي اعلانونه

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د احمد نعمان د حاجي نجيب الله د زوی او د سيف الله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0703535434**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عنايت الله د حاجي روح الله د زوی او د حاجي آدم خان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0708339367**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عبدالغفار د بسم الله د زوی او د نور الحق د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0701624699**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د ګل احمد د محمد عمر د زوی او د عبدالقدوس د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0703423407**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محمد ولي د محمد قاسم د زوی او د باري خان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0711373482**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د مولوي جانان مجاهد د ملا جمال الدين د زوی او د عبدالوهاب د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0700870882**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عبدالولي د عبدالباقي د زوی او د عبدالله جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0700829191**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د احمد د امير محمد د زوی او د شاه محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0711626305**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د نصيب الله د عبدالمحمد د زوی او د حاجي وزير خان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0706512792**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محسن رحيمي د حضرت شاه د زوی او د باز محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0704650629**

* * *

دوې قطعې بر ښنايي تذکرې چي د سميع الله، نصيب الله د محب الله د زامنو او د عبدالهادي د لمسيانو په نومونو دي، ورکي سوي دي، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0703600824**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د سردارولي انوري د ملا حمد الله د زوی او د نور محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0702654348**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محب الله د علاؤالدين د زوی او د غلام محی الدين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0707274020**

* * *

څلور قطعې بر ښنايي تذکرې چي د نعمت الله رحماني د عصمت الله رحماني د زوی او د غلام حيدر رحماني او پلوشه رحماني د مير احمد د اولادونو او د نظر محمد د لمسيانو په نومونو دي، ورکي سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0700828185**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د احمد د محمد ګل د زوی او د آغا ګل د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0702221726**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د اسدالله د عبدالخالق د زوی او د محمد عمر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0707884734**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د لعل محمد د عيسی محمد د زوی او د نظر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0708942903**

دورکي اعلانونه

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د بسم الله د عبدالحق د زوی او د عبدالمالک د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0703571217**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د احمد ظاهر د حاجي عبدالله د زوی او د حاجي عبدالرحيم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0705574738**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د حيات الله پوپل د لعل محمد پوپل د خدای رحيم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0700381368**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محمد الله افغان د محمد ګل د زوی او د غلام قادر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0704256462**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د هدايت د قاسم جان د زوی او د غلام جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0700521901**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د احمد الله رحيمي د عبدالعليم د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0706341922**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محمد سرور د سلطان محمد د زوی او د شمس الدين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0704227517**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د مبينه د عبدالواسع د لور او د حاجي امان الله د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0700576365**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د مطيع الله د محب الله د زوی او د حميدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0700655365**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د رحيم الله د حيمدالله د زوی او د محمد صديق د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0707900122**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د حسن احمد د عبدالسلام د زوی او د محی الدين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0707230213**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د حماس احمد د نور احمد د زوی او د منير احمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0704376171**

* * *

دوې قطعې بر ښنايي تذکرې چي د صافيې او رابعې د محمد داؤد د لوڼو او محمد عمر د لمسيانو په نومونو دي، ورکي سوي دي، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0700069802**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محمودالله د محمد صديق د زوی او د عبدالقادر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0701187089**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د ګل سکه د عبدالرحمن د لور او د ګل زمان د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0707101233**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د سهراب د محمد ظاهر د زوی او د محمد کاظم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0702964129**

* * *

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د نذير احمد بارک د سلطان محمد د زوی او د علي احمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : **0700838487**

شعري برخه

د طلوع رنګيني وړانګې

نعت شريف

مولوي نورالحق "مظهري"

عجبه ښه ګلبڼ الله درکړی خيال کوی
غمازيې له مابين څخه شړلی خيال کوی

* * *

چي ګل موسوې غوټۍ د آرمانونو او د هيلو
حريت چي مو په لاس باندي راغلی خيال کوی

* * *

قربان له دې ګلبڼه پتنګان سوله د مينې
ماليار چي حرم سرای ته رسېدلی خيال کوی

* * *

آزاد چي بلبلان سول د زاغانو له تورتمه
د عشق بازار سينګار ته جوشېدلی خيال کوی

* * *

آزادي زمزمې دي د خوندونو په چمن کي
شبنم د خپلواکۍ چي اورېدلی خيال کوی

* * *

پام وکړی شرموښان در څخه ګډ په رمې نه سي
په لاس درته عظيم فرصت درغلی خيال کوی

* * *

چي ښکار در څخه نه سي بلبلان د زاغ په فکر
هدف ته هدفمند چي رسېدلی خيال کوی

* * *

که نه سو را بيدار غفلت به هر څه را نه واخلي
چي **"مظهري"** همدا الهام ليدلی خيال کوی

غزل

احمد "بريالی"

نه وي هر سړی نماينده د ځان
سخته تر هر څه وي اداره د ځان

* * *

پاته پر توبې مستقيم نه سي چي
لوټه پر او بو اوسي توبه د ځان

* * *

نه وي هر سړی د خپل اختيار څکه
نه لري هيڅوک خپل قباله د ځان

* * *

رنګ يې د توبې وي د وعدې هري
څوک پر ځای کوای نه سي وعده د ځان

* * *

زړه وي د تنګ نيت نماينده ځکه
هر سړی اول وهي تېشه د ځان

* * *

عمر يې پخه په تدبير بولي چي
هر سړی ښهويني فيصله د ځان

* * *

ځان ورته اصيل د زمان ښکاري چي
خلکو کي ستانه کړي سلسله د ځان

* * *

نوم د **"بريالي احمد"** کي ليک وي نو
هڅه وي د ځان او هم جذبه د ځان

مسئول مدير: ـــــ بريالی "فيضي"
د تصحيح مسئول: ـــــ حاجي عبدالله "ذاکري"
کمپوز او ډيزاين: ـــــ نصير احمد "صابر"
د مديريت شمېره: ـــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزيع مديريت شمېره: ـــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: ـــــ علامه حبيبي واټ – اطلاعات او فرهنګ رياست
د برېښناليک پته: ـــــ baryafaiz981@gmail.com

د ګډون کوونکو له پاره خبرتيا!

د طلوع افغان تاريخي خپرونه چي د هيواد په مطبوعاتي تاريخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمرېز کال په آخرکي د طلوع افغان تاريخي ورځپاڼي يو بشپړ کلکسيون ولری، په طلوع افغان ورځپاڼه کي ګډون وکړئ.

د ګډون کلنی بيه ۵۰۰- پنځه سوه افغانی، زده کوونکو او محصلينو ته د تصديق په وړاندي کولو سره نيمه بيه ټاکل سوې ده. اداره

Tolo-E-Afghan Journal

طلوع افغان مديريت له ټاکلي ليکنيز معيار سره سم، د ليکنو په اصلاح کي د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هيله کېږي، چي دا سپېڅلي پاڼې بې ځايه و نه غورځوئ!

Founded in 1921 ISSue:16 Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتياوي

پروژه عملي کوي

پروژه: د افغانستان بانک د روزګان، دايکندي، هلمند او زابل د نمايندګي او د کندهرا د ګمرک د امنيتي ساتونکو له پاره د کانکسونو چمتو او نصب کول.

داوطلبۍ ته د بلني شمېره: DAB/1405/NCB/W20

د افغانستان بانک پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، ترڅو د افغانستان بانک دارزګان، دايکندي، هلمند او زابل د نمايندګيو او د کندهار د ګمرک د امنيتي ساتونکو له پاره د کانکسونو چمتو او نصب کولو پروژې، د داوطلبۍ په پروسه کي ګډون وکړي او د اړوندي شرطپاڼي چاپ سوی نقل د فلش ډيسک له لاري او يا د افغانستان بانک له ويب پاڼي (www.dab.gov.af) او د ملي د تدارکاتو اداري له ويب پاڼي (https://tenders.ageops.af/) څخه ترلاسه کړي.

خپل آفرونه په شرطپاڼه کي د ذکر سوو شرايطو او د تدارکاتو له قانون او کړنلارې سره سم، په سربنده توګه د اعلان د خپرېدو د نېټې څخه بيا د سهار تر لسو نيمو بجو د ۱۴۰۵/۴/۱۷ ل نېټې پوري، په درېيم پوړ کي د افغانستان بانک، د تدارکاتو لوی آمريت ته چي د کابل په ابن سينا واټ کي واقع دی، وړاندي کړي. تر ټاکلي وخت وروسته او په آنلاين بڼه را رسېدلي آفرونه د منلو وړ نه دي.

د آفر پرانيستلو غونډه: د ۱۴۰۵/۴/۱۷ ل نېټې د چهارشنبې په ورځ، د سهار پر لس نيمو بجو د افغانستان بانک د تدارکاتو په لوی آمريت کي دائرېږي.

په قرارداد يې ورکوي

د ژړی ښاروالي غواړي چي د دوهم وار له پاره خپل ملکيت مربوط، د حوض مدد د اهلي حيواناتو ګنج، د داوطلبۍ په ذريعه، د يو کال له پاره په قرارداد ورکړي. هرڅوک چي يې غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي د روان ۱۴۰۵ ل کال د جوزا مياشتي د دېرشمي نېټې څخه بيا د روان کال د چنګاښ مياشتي تر دوولسمي نېټې پوري، د ژړی ښاروالۍ ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، تضمين شل سلنه نغداً اخيستل کېږي او د داوطلبۍ مجلس د روان کال د چنګاښ مياشتي پر ۱۳ نېټه، د شنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعين سوي هيئت په حضور کي، د ولايت مقام، په اداري او مالي رياست کي تر سره کېږي.

يادونه: هر هغه څوک چي په داوطلبي کي ګډون کوي، بايد په ضمانت کي د دوو معتبرو ظرفيت لرونکو اشخاصو تضمين له ځانه سره ولري.

د ورکي اعلانونه

څه وخت وړاندي د عينو مېني د ملکيت يو سند چي د قدرت الله د حاجي عبدالمجيد سروري د زوی په نامه دی، د ملکيت نمبرونه يې (47- 49)، موقعيت (C1-49/C1-49) او د فايل نمبرونه (28915- 28914) ورک سوی دی. هر چا که پيدا کړی وي، د افکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او يادي د ټيليفون په دې شميرو تماس ونيسي. 0704668501 – 0700305088

❋ ❋ ❋

څه وخت وړاندي د عينو مېني د ملکيت يو سند چي د شراف الدين حسن د جان محمد د زوی په نامه دی، د ملکيت نمبر يې (140)، موقعيت (C1-47) او د فايل نمبر (30400) ورک سوی دی. هر چا که پيدا کړی وي، د افکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او يادي د ټيليفون په دې شميرو تماس ونيسي. 0700311812 – 0700305088

❋ ❋ ❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالکبير د عبدالغفور د زوی او د عبدالعليم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0705103255

❋ ❋ ❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د محمد الرحمن د محمد اسحاق د زوی او د قاري روزي خان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0707062651

❋ ❋ ❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالغفار د حاجي سدوزي د زوی او د فقير شاه د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700306707

❋ ❋ ❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د رابعه د محمد شفيق د لور او د محمد صديق د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0701359594

❋ ❋ ❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د فيض الله د حاجي محمد حنيف د زوی او د رازمحمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700363571

(۱) مخ پاته: له ايران او پاکستانه په سوونو...

دوی د ثبت، لېږد، مالي مرستو، لنډ مهاله مېشتېدني او همدرانګه د هيواد، اسلامي نظام، مهاجرت، صبر او زغم، ښووني او روزني په اړه ګټور پوهاوی ورکړل سوی او ټول ټال ورته ۳۹۴ سيمکارټونه هم وېشل سوي دي.

(۱) مخ پاته: د محلي رسنيو او د اطلاعات...

ورپسې د امر بالمعروف نهي عن المنکر نماينده د محلي رسنيو د مسئولينو غوښتنه وکړه، هغه څه نشر نه کړي چي د امر بالمعروف نهي عن المنکر په قانون کي منع سوي چي د ټولني په زيان وي.

وروسته د محلي رسنيو د مسئولينو له لوري هم د داسي مجلسونو جوړول ګټور وبلل سول او ياده يې کړه چي موږ ټول په ګډه کولای سو، د ټولني د اصلاح له پاره کار وکړو. د اطلاعات او فرهنګ رياست له لوري هم د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکول سو او مجلس د دعايي په کولو سره پای ته ورسېدی.

(۱) مخ پاته: د کندهار موزيم به ژر د ليدونکو...

فرهنګ رياست په پخوانۍ ودانۍ کي جوړ سوی او د ودانۍ د معياري کولو، ترميم او تخنيکي تجهيزاتو اړوند چاري يې بشپړي سوي دي.

د هغه په خبره، د موزيم د بيارغوني او انتقال پروژه د افغانستان د کلتوري ميراثونو د خېړني او ساتني انستيتيوت په مالي ملاتړ او د افغانستان ملي موزيم په تخنيکي همکارۍ پلي کېږي، چي اوس يې چاري وروستي پړاو ته رسېدلي دي.

په ياده پروژه کي د پخوانۍ ودانۍ ترميم، د معياري ويترينونو او لابراتوار جوړول، د تاريخي آثارو ثبت، پاکول او ترميم بشپړ او اوس مهال د پروژې په وروستۍ مرحله کي تاريخي آثار په ويترينونو کي د ننداري له پاره ځای پر ځای کېږي او تر دې بهير وروسته به، موزيم په رسمي ډول د ليدونکو پر مخ پرانيستل سي.

د کندهار موزيم د بيارغوني او معياري کولو موخه د افغانستان د تاريخي او فرهنګي ميراثونو ساتنه، د لرغونو آثارو خوندي کول، د کورنيو او بهرنيو سېلانيانو له پاره د مناسب فرهنګي چاپېريال برابرول بلل کېږي.

(۱) مخ پاته: د کوکنارو بديل کښتونو له پاره...

په برخه کي ۳ زره ۳۱۰ تنه بزګرانو ته د غنمو، پنبې، حبوباتو، سبو تخمونه، کېمياوي سري، د غنم رېبلو ماشينونه او د کرهڼيز حاصل ظرفيت لوړوني وسايل وېشل سوي، ۵۰ تنو بزګرانو ته د مرخېړيو مجهز فارمونه او په هره ولسوالۍ کي ۴ لوی تخم ساتني مرکزونه جوړ سوي او ترڅنګ يې د مالدارۍ په برخه کي ۶ بابه د تازه شيدو راټولولو مرکزونه، ۴ بابه د څارويو خوراکي مرکزونه جوړ سوي، ۶ تنه مسلکي کسان يې د مصنوعي القاح په برخه کي روزلي او بشپړ کيټونه يې ورته وېشلي دي، ۴۰۰ تنو مالدارانو ته د قورت جوړولو وسايل، ۲۰ تنو کورنيو ته يې د شات توليد فارمونه او تر زر زيات څاروي يې د تطبق او چنجيو ضد درمل او واکسين کړي او همدارنګه په همدې لړ کي پنځه لوی چکډيمونه د اوبو مهار کولو په موخه جوړ سوي، ترڅو د بزګرانو او مالدارانو د اوبو ستونزي حل سوي وي.

د يادوني وړ ده چي اوس مهال د ياد نړۍوال سازمان په مالي ملاتړ، د کندهار ولايت په خاکرېز، شاولي کوټ، ارغستان او غورک ولسواليو کي د بزګرو څخه تر سرليک لاندي پروګرامونه جوړېږي، چي په خاکرېز ولسوالۍ کي تر سره سوي او په نږدې راتلونکي کي به په نورو ولسواليو کي هم جوړ کړل سي.

(۱) مخ پاته: د دوو ميليونو ډالرو په لګښت سوداګريز...

جوړ سوي او چاري يې د يو کال په موده کي بشپړي سوي او د غاليو اړوند سوداګريزو توکو د پېر او پلور له پاره به وکارول سي.

د کلات ښاروالۍ مسئولينو د دې مرکز جوړېدل، د اقتصادي ودي له پاره مهم ګام بللی او ويلي يې دي، د خصوصي سکټور د پانګوني د ملاتړ له پاره به لازمي اسانتياوي برابري کړي.

د يادوني وړ ده، چي په وروستيو کلونو کي په هيواد کي د خصوصي سکټور پانګوني زياتي سوي، چي د کارموندني او اقتصادي ودي په برخه کي مهم رول لري.

(۱) مخ پاته: د څه باندي يو ټن درملو...

د هغه په قول، د يادو درملو د قاچاق په تړاو تراوسه څوک نه دي نيول سوي.

د نيمروز د فرعي ګمرکاتو مسئولينو ټينګار کړی، چي د قاچاق د مخنيوي او د غير قانوني توکو په وړاندي به خپلي هڅي لا پياوړي کړي، څو د خلکو روغتيا او اقتصادي ګټي خوندي وساتل سي.

د يادوني وړ ده، چي په دې وروستيو کي د نيمروز په بېلابېلو سيمو کي د انساني درملو او نورو قاچاقي توکو د لېږد ګڼي هڅي شنډې سوي دي.

په کرايه يې ورکوي

د کندهار ولايت د امنيې قوماندانۍ د معتادينو د کنډک مخته يو باب د پرچون دوکان موقعيت لري او د اعلان له پاره ځانګړی سوی دی. هر هغه څوک چي ياد د پرچون دوکان د درو کلونو له پاره د کرايې په ډول غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي د روان ۱۴۰۵ ل کال د غبرګولي مياشتي د ۳۰ نېټې څخه بيا د روان کال د چنګاښ مياشتي تر نهمي نېټې پوري د (۱۰) ورځو په موده کي دي، د کندهار مستوفيت رياست، د امارتي املاکو لوی مديريت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، د يو کال تضمين نغداً اخيستل کېږي او د يادي داوطلبۍ آفرونه د روان کال د چنګاښ مياشتي پر لسمه نېټه، د چهارشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعين سوي هيئت په حضور کي، د امارتي املاکو په عمومي مديريت کي تر سره کېږي.

د ورکي اعلانونه

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د انورجان د محمد اسماعيل د زوی او د حاجي رمضان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0707836488

❋ ❋ ❋

د شهيدانو او معيوبينو رياست اړوند، يو بانکي کارډ چي د نور محمد د حاجي شېر محمد د زوی او د مولاداد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0703139032

❋ ❋ ❋

د شهيدانو او معيوبينو رياست اړوند اسناد، چي عبدالکريم د محمد حکيم د زوی او د محمدامين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0705141804

❋ ❋ ❋

د شهيدانو او معيوبينو رياست اړوند، يو بانکي کارډ چي د بختوري د عبدالرحمن د لور او د معصوم د لمسۍ په نامه دی، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0701583943

اعتبار نه لري

مصطفی کاظم لميټېډ چي د ۲۷–۱۸۷۴ شمېرې جواز درلودونکی، رئيس يې عبدالرازق د حاجي جمعه زوی او مرستيال يې عبدالرزاق د حاجي جمعه زوی دی، ورک سوی او د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

❋ ❋ ❋

شرکت طاهر لميټېډ د ۲۰۷۷–۲۷ شمېرې جواز درلودونکی چي رئيس حاجي محمد طاهر نوري او د حاجي خدای رحيم زوی او مرستيال يې احمد الله طاهري د حاجي محمد طاهر زوی دی، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

❋ ❋ ❋

امين الله امين د حاجي رحيم الدين زوی د امين الله انفرادي جواز مالک چي د جواز شمېره يې D-24-647 ده، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته د اعتبار وړ نه دی.

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د صديق الله د عبدالبصير د زوی او د محمدنبي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0709006568

❋ ❋ ❋

کامل فيصل سعيدي لميټېډ چي د (02805- 27) شمېرې جواز درلودونکی دی، رئيس محب الله سعيدي د اسدالله زوی او مرستيال يې احسان الله سعيدي د اسدالله زوی دی، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

❋ ❋ ❋

يوه قطعه برېښنايي کارډ د شهيدانو او معلولينو رياست اړوند، چي د عبدالواحد د عبدالاحد د زوی او د محمد عظيم د لمسي په نامه ده، ورک سوی دی، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0707877935